PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان او سئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت   دريم کال، ۴۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۸ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د کب ۱۰ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د ربيع الثانی ۸ مه   د۲۰۱۲ م د فبروری ۲۹ مه

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتينې مينه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مينه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ يې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آيتونه)

درس حديث

از ابوهريره (رض) روايت است که رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمود: «همهٔ امتيان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقيقت، امتناع ورزيد ه است». (صحيح البخاری)

د حزب اسلامي غړو د ننګرهار په ولایتي دفتر کې د قرآن کريم د سوځولو ناوړه عمل وغانده

د ننګرهار په ولايتي دفتر کې د امريکايانو لخوا د باګرام په هوايي اډه کې د قرانکريم د سوځولو د ناوړه عمل د تقبيح او غـندنې په مناسبت يوه احتجاجي غونډه جوړه شوې وه

چې په دی کی د حزب اسلامی مربوط په سلګونو علماکرامو قومی مشرانو ،جهادی قوماندانانو او محصلينو برخه اخيستی وه.

غونډه د قاری صاحب اعزام الدين د قرانکريم د ځومبارکو اياتونو په تلاوت پيل شوه.

افتتاحيه وينا د حزب اسلامی د ننګرهارد ولايتی دفتر مسول استاد عبدالعلی وکړه او د خپلی ارزښتناکی وينا په ترڅ کی وويل: " د امريکايانود دغه مردود عمل په وړاندې د خپلې کرکې او نفرت اظهارکوو او په کلکه يی غندو دا بايد د حزب اسلامی متعهدينو د يوستر لاريون په ترڅ کی غندلای وای خو د نازکو حالاتو او امنيتی شرايطو د نه موجوديت له مخی مو دا کار ونه کړ، مونږ به د خپلو اسلامی مقدساتو او شعايرو د سرپه

پاتې ۳ مخ

اعلاميهء حزب اسلامی افغانستان

حزب اسلامی افغانستان در حاليکه اهانت به قرآن مجيد را در پايگاه نظامی بگرام از طرف نيروهای ائتلاف به شدت تقبيح نموده و خواهان محاکمه عاجل عاملان آن است و احساسات ملت مسلمان خود را در عکس العمل به اين عمل شنيع به نظر قدر می نگرد و بايد هم ملتی که در دفاع از مقدسات خود دو مليون شهيد را نثار اسلام عزيز نموده در برابر چنين حادثهء تکان دهنده خاموش باقی نماند. با توجه به حساسيت وضع و برای جلوگيری از سوء استفاده کشورهای منطقه از احساسات پاک ملت ما از کافهء هموطنان عزيز خويش انتظار داريم تا از به خشونت کشانيدن مظاهرات و اجتماعات به شدت اجتناب نمايند و به عناصر اخلالگر و ماجراجو فرصت ندهند به مال و جان و دارائی های فردی و عامه ضرر رسانند.

د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې د کب د درېيمه ولمانځله

دتيرې چهارشنبې په ورځ دکب د مياشتې په درېيمه نيټه دحزب اسلامي افغانستان په مرکزي دفتر کې دکب ددرېيمې نيټې په اړه دکابل ښار د ميړنيو او مجاهدو خلکو د ولسي پاڅون اوددغې ورځې دلمانځولو په موخه غونډه وکړه.

غونډه دقران کريم دځو مبارکو اياتونو په تلاوت پيل او يکې دپيښې عيني شاهدانو، جهادي څېرو اوځوانانو دکابل ښار د مجاهدو او ميړنيو خلکو دپاڅون او دهغوي دسترو قربانيو په اړه معلومات وړاندې کړل.

دحزب اسلامی افغانستان دعالي شورا غړي ښاغلي اعزامي دکب درېيمه دافغانستان په تاريخ کې يوه نه هيريدونکي ورځ وبلله ، نوموړي زياته کړه دکب درېيمه دوخت دکمونستي رژيم او د سرو لښکرو ديرغل په وړاندې يوميړنی پاڅون ؤ، ښاغلي اعزامي وويل دکب درېيمه دسترې قرباني تاريخي ورځ اوښايي په لويوغونډوکې په لوړه کچه ولمانځل شي.

ورپسې دپکتياولايت اوسيدونکي اودکب ددريمې نيټې عيني شاهد عبدالولي ددغې پيښې په اړه دسترګوليدلي حال بيان کړ،

پاتې ۳ مخ

ششمين نشست "ايکو" در کابل تدوير يافت

Economic Cooperation Organization

کابل، پژواک:

ادارهٔ ملی آمادګی با حوادث طبيعی، در ششمين کنفرانس بين المللی سازمان همکاريهای اقتصادی منطقوی (ايکو) در کابل، از سيلاب و آبخيزی های احتمالی آينده، ابراز نګرانی کرده و خواستار کمک جامعهٔ جهانی ګرديد.

اين نشست، ديروز (۹) حوت با شرکت مقامات حکومتی، اعضای ايکو، نمايندګان سازمان ملل متحد و موسسات خارجی، برای دوروز در کابل داير شده است.

محمد دايم "کاکړ" رئيس عمومی ادارهٔ ملی آمادګی با حوادث طبيعی ګفت که حدود ۱۳۴ تن بر اثر برفباری و شدت سرمای اخير در سراسر کشور جان باخته، بيش از ۲۲۰ تن جراحت برداشته و ۸۶۰۰ خانواده متضرر ګرديده اند.

وی، افزايش در شمار تلفات و خسارات ناشی از سرمای زمستان سال روان را کمبود بودجه و نبود کدرهای تخصصی خواند و افزود که به دنبال برفباری های شديد زمستان

بقيه در صفحه ۳

دلغمان جهادی قوماندان حاجي شاه مرد خان په يو بريد کې ټپي شو

دلغمان ولايت دقرغيو ولسوالی دقومي شوری مشر او جهادی شخصيت الحاج شاه مرد خان باندې دلغمان ولايت دکچړيو په سيمه کې دناپېژانده وسلوالو لخوا بريد وشو چې په نتيجه کې حاجي شاه مرد خان، دهغه پلار او ورور سخت ټپيان شو پدې پېښه کې دحاجي شاه مرد خان ځوان زوی شاه خان په شهادت ورسيد.

حزب اسلامي افغانستان دغه ناځوانمردانه عمل په کلکه غندي، حاجي شاه مرد خان او د کورنی ټپي غړو ته يې د الله له درباره د روغتيا او دهغه ځوان زوی شهيد شاه خان ته د فردوس جنت غوښتنه کوي او کورنی ته يې له پروردګاره د زړه صبر او اجر غواړي.

حزب اسلامي افغانستان د غمځپې کورنی سره پدې غم کې ځان شريک بولي او دلغمان دولايتي ادارې نه د پيښې دعاملينو د زر تر زره د نيول کيدو او محاکمې غوښتنه کوي.

سړه هوا او تودې سرګرمۍ

عبدالله کامه وال

دويم مخ

بخښنه هم خپل ځای لري

محمد خليل

دويم مخ

شيخ الازهر بی حرمتی قرآن کريم را محکوم کرد

قاهره، رسانه ها:

شيخ الازهر ضمن محکوم کردن اهانت نظاميان امريکا به قرآن کريم در افغانستان اين اقدام را وحشيانه و عبور از خط سرخ دانست.

به ګزارش ګران افغانستان، به نقل از المحيط، احمد الطيب، شيخ الازهر با صدور يک بيانيه ضمن ابراز تاسف نسبت به حادثه قرآن‌سوزي در افغانستان، اين اقدام نظاميان امريکايي را به شدت محکوم کرد.

وي در ادامه افزود: خروج فوري نيروهاي نظامي امريکا از خاک افغانستان تنها راه براي حل بحران موجود است تا به اين وسيله ملت افغانستان بتوانند خودشان براي سرنوشت شان

بقيه در صفحه ۳

د قرآن کريم د دفاع صحيح لاره کومه ده؟

عبيدالله صافی

تېره اوونۍ په بګرام کې د امريکايي پوځيانو له خوا د قرآنکريمونو له سوځولو او سپکاوی نه وروسته چې د افغانستان د مسلمان ولس له خوا په ګڼو ښارونو کې ددغه ناوړه او غېر انساني عمل په خلاف شديد عکس العمل او ژور خپګان ښکاره شو دا د افغانانو فطري او مذهبي حق دی، نه څوک ورته غېر قانوني ويلې شي او نه هم ناروا، څکه خو د ولسمشر حامد کرزي په شمول ټولو اسلام پالو افغانانو د مظاهره کوونکو مظاهرې نه يواځې دا چې ستايلي بلکې د قدر وړ يې هم بللي دي، خو په مظاهرو کې چې کومې کړنې د اعتراض وړ او د مسلمانانو د آزار او اذيت سبب ګرځيدلي دي هغه دا دي چې مظاهره چيان ددې پرځای چې په خپل قهر او غضب کنترول کړي وای بې قابو شوي، خپل توازن او اعتدال يې له لاسه ورکړی، د ولسي وګړو ملکيت او دارايي ته يې تاوان اړولی، د موټرو، د کانونو او هوټلونو شيشې يې ماتې کړي، د سورلی په ګاډو د کاڼو او کوتکو باران کړي، د ولاړو موټرو ټېرونه يې ويستلی او د سړک په سر ورته اور اچولي دی ان چې په ځينو ځايونو کې چور او تالان هم شوې، په داسې حال کې چې دا هر څه د الله په کتاب قرآنکريم کې حرام او ناروا دي، قرآن کريم د انسان د سر، مال، آبرو او عزت د حفاظت او ساتنې درس ورکړی نه دا چې د بل چا په تس کې دې ورته تاوان واړول شي.

د افغانستان مسلمانانو د امريکايي عسکرو ددغې کړنې په خلاف څکه په مظاهرو لاس پورې کړې و چې هغوی يوه ناوړه او له ظلم نه ډک عمل ترسره کړې او غوښتنه ترېنه کوله چې بيا لپاره دا ناوړه او ظالمانه کړنه ترسره نه کړي، ...

(پاتې دريېم مخ)

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

خشونت مقامات امنیتی در برابر مظاهرات هیجانی مردم

از چند روز به اینسو که مردم مسلمان ما در عکس العمل با تجاوز نیروهای ائتلاف به مقدس ترین هستی مسلمانان دست به مظاهرات می زنند قوای امنیتی در کمال بی باکی بر مردم خود حمله ور گردیده و با درندگی ده ها انسان را هدف رگبار خود قرار می دهند. در حالیکه تظاهرات در برابر همچو حوادث تکان دهنده حق طبعي و قانونی مردم می باشد. احتمال به خشونت کشانیده شدن آن نیز در کشوری که اکثریت قاطع مردمان آن را مردم بی سواد و کم سواد تشکیل می دهد دور به نظر نمی رسد و مقامات امنیتی باید برای مهار نمودن آن آمادگي داشته باشند. این راه سنجیده علاج نیست که نیروهای ائتلاف قرآن مجید را با سبک سری بسوزد و مقامات امنیتی مردم خود را بکشد تا خاموش بمانند.

گردانیدن میله تفنگ به سوی مردم کار حسنی مبارک، قذافی، علی عبدالله صالح و بالآخره دیکتاتور جنایتکار سوریه بشار الاسد می باشد، که ثمره آنرا چشیده اند و خواهند چشید.

اسرائیل بزرگترین دشمن ملت مسلمان فلسطین هم بخاطر پراگنده ساختن تظاهرات فلسطینی ها از گاز اشک آور، پاشیدن آب و مرمی های رابری و ابزار ضد شورش استفاده می کند به ندرت دیده شده که میله تفنگ را به طرف مظاهرات متوجه ساخته باشد.

هرگاه پس از ده سال تربیه نیروهای امنیتی و پولیس آنهم توسط استادان آلمانی که در جهان از شهرت خاصی برخوردارند باز هم با رسم قرون وسطائی مردم مستقیماً هدف گلوله قرار گیرند پس نصیب ما از این همه کوشش و تلاش استادان خارجی که در بدل امتیازات خاصی از کشورهای شان به اینجا می آیند چه خواهد بود.

می پذیریم که عناصر خرابکار و استخدام شده در به خشونت کشانیدن مظاهرات رول خاص خود شان را دارند و عده ای که می خواهند از آب گل آلود ماهی بدر نمایند تا از اجانب مزد بدست آرند با اعمال خرابکارانه کنترول مظاهرات مسالمت آمیز را از دست برپا کنندگان آن هم بیرون می سازند مگر نیروهای امنیتی بجای شناسائی همچو عناصر و کنترول ویرانگری آنها دست به قتل و کشتار می زنند و جز این چیز دیگری نیاموخته اند. و این هم مناسب نیست هر عکس العمل طبعی را به استخبارات کشورهای همسایه نسبت داد و بنام مقابله آن دست و آستین را برای سرکوب مردم خود برزد.

مردم ما انتظار آنرا دارند که با توجه به حضور نیروهای خارجی در این کشور و تصرفات غیر مسؤولانه آنها از جانبی و ناآشنائی مردم ما با عکس العمل منطقی و سنجیده در برابر حوادث در نیروهای امنیتی قطعات ضد شورش تربیه شده و ابزار و لوازمی که بدون تحمیل نمودن خسارات جانی و مالی بر مردم عکس العمل های خشن و جدی را مهار نموده بتواند در اختیار شان قرار داده شود.

در حالیکه رئیس جمهور خود اعتراف می نماید که صفوف مخالفین از خشونت برخورد عدهٔ از مسؤولین نظام در برابر مردم نیرو گرفته و سبب پیوستن عده زیادی به صفوف مخالفین گردیده است. از کجا می توان مطمئن شد که به رگبار بستن مظاهرات ایکه به رسم عکس العمل در برابر اهانت به مقدس ترین کتاب آسمانی مؤمن به مردم مسلمان ما برپا گردیده، صفوف مخالفین مسلح نظام را غنی تر نسازد و سند برائتی بدست آنها بسپارد که هر آنچه در برابر همچو یک نظام انجام می دهند، در موازات شرع و عقل است.

بخښنه هم خپل ځای لري

محمد خلیل

لوی الله هر بشر ته د ښه او بد ترمنځ د توپیر او تمیز کولو عقل او پوهه ورکړېده، کېدی شي یو څوک د ځینو کارونو په جزئیاتو پوه نشي خو پر غټو غټو مسائلو او اصولو هر انسان پوهېږي، په ګرده نړۍ کې د انسانانو حقوق ښه څرګند دی او هر عاقل او بالغ انسان په دې خبره ښه پوهېږي چې د هر انسان ځان، مال، عزت، آبرو او استقلال محترم دی، په نړۍ کې چې څومره تاو تریخوالي او جګړې منځ ته راغلي ددې تر شا همدا عوامل بنسټیز رول لري، د یوې عقیدې او مذهب پیروانو قهر او غصه هله راپارېږي چې دهغوی ددین او مذهب په خلاف ګنده الفاظ استعمال شي، توهین او بې احترامی یې وشي، مذهبي او عقیدوي کتابونو ته اور واچول شي او یا هم په ګنده او غلاظت نه ډکو ډېرانو او خاک اندازونو کې وغورځول شي، همداراز دهغوی په مال، عزت او آبرو تېری وشي، دغه ناوړه عملونه او کړني چې ددنیا په هر ګوټ کې ترسره شوي هلته خامخا د خلکو قهر او غصه راپارېدلې او جنګ جګړې سراوچت کړی دی.

له کومې ورځې نه چې مهذبې او د بشر د حقوقو علمبردارې امریکا خپل مهذب پوځونه افغانستان ته استولي له همغې ورځې نه تر ننه پورې هغوی د خپل تهذیب او د بشر د حقوقو د ملاترولي یو ثبوت هم نه دی وړاندې کړی د تېرو لسو کلو راهیسې که زرګونه نه وي نو سلګونه واقعات خو داسې پېښ شوي دي چې امریکا او دهغې د ائتلافي ملګرو هېوادو پوځونو په قصدي ډول ترسره کړي دي او هر ځل یې د اشتباه تر نامه لاندې له افغانانو بخښنه هم غوښتې ده، خو پوښتنه دا ده چې افغانان آخر دا څنګه ومني چې د امریکایي او ناټو ځواکونو دا ټول کارونه د اشتباه او سهوې له مخې کېږي؟ سهوه هم یو تعریف لري او په قصدي توګه شوې کار هم، د دواړو ترمنځ اسمان او زمکې هومره فرق دی، سهوه هغه دی چې د یو انسان قصد او اراده پکې دخیل نه وي لکه له یو ډریور نه موټر چپه کېږي او یا هم په ناڅاپي ډول څوک مخې ته راشي او ویې وهي، یا یو ښکاري په ښکار ډز وکړي خو سهواً بل انسان یا څاروی هم ورسره ولګېږي. دچا کور ته ننوتل پر ورو ماشومانو، سپین ږیرو او تورسرو ډزې کول او یاهم پر سپیو داړل سهوه نه، بلکې قصدي عمل بلل کېږي.

د یو شکي مخالف وسله وال په تمس کې د پوره کلي بمبارول او دهغه ټول اوسېدونکې وژل په هېڅصورت او په هېڅ قانون کې د سهوې تر عنوان او تعریف لاندې نه شي راتلې او نه هم د نړۍ په قانون کې چېرته ددې اجازه ورکول شوې چې د یو مشکوک شخص د ختمولو لپاره دی ورسره نور سلګونه بې ګناه خلک هم ووژل شي. هره سهوه چې بیا بیا تکرار شي هغه بیا د سهوې له تعریفه اوځي او هغې ته قصدي او عمدي کړنه ویل کېږي، د قرآنکریمونو د سوځولو ناوړه کړنه خو قطعاً د سهوې په چوکاټ کې نه شي راتلې ځکه چې قرآن کریم پخپل ذات کې نه پر چا ډزې کولې شي او نه هم ظلم او تېری، نه پخپله دچا لاس ته ورتللې شي او نه هم دچا کور او کوټې ته، نه پښې لري او نه هم لاس او وزرې، نه الوتلی شي او نه هم پر چا په زوره تحمیلېدای شي.

هغو امریکایي عسکرو چې د تېرو لسو کلو راهیسې څو څو ځلې یې قرآن کریمونه سوځولي، په ډېرانو کې اچولي، وربانديې په دواړو پښو ختلي او یا هم په ډزو ویشتلې دي لدې پرته بل څه انګیزه او دلیل کېدلې شي چې هغوی دا کارونه یواځې او یواځې د افغانستان د مسلمان ولس د آزارولو، دهغوی د قهر او غصې د راپارلو او مذهبي منافرتونو د خپرولو لپاره ترسره کړي دي؟

آخر یو امریکایي پوځي ته ددې خبرې څه ضرورت دی چې د مسلمانانو مقدس کتاب قرآن کریم له بازاره او یا هم له مسجد نه اخلي او بیا هغو ته د خلکو په وړاندې اور اچوي هغه قلمبرداري کوي او بیا د میډیا له لارې مسلمانانو ته ښکاره کوي؟ !

همدغه راز د امریکا او ناټو ځواکونو هغه عمل به کوم له عقل نه عاري او لیوني سړی سهوه وګڼي چې دهغوی په لاس وژل شویو مړیو د جسد ګوتې، لاسونه او پښې پرې کوي او له ځانه سره ساتي همدغه راز دهغوی دهغو له تعصب نه ډکو کړنو ته به څوک اشتباه ووایي چې د وژل شویو مسلمانانو پر لاشونو متیازې کوي او وربانديې خاندي. دا ټول هغه حقایق دي چې امریکایي چارواکي او جنرالان یې له منلو پرته بله چاره نه لري نو ځکه هر ځل د بخښنې په غوښتو خپل ځانونه خلاصوي، خو واقعیت دا دی چې بخښنه غوښتل او وربانديې تأسف ښکاره کول دا مشکل نه شي حلولې، بلکې ددې د حل یواځینی لاره داده چې امریکایي چارواکي او جنرالان د خپلو پوځیانو ددغو ناوړو عملونو په کلکه مخه ونیسي او عاملینو ته یې سخته سزا ورکړي. که داسې نه کوي لکه څنګه یې چې تر اوسه یې نه دي کړي نو بیا ددې ښکاره مطلب همدا دی چې هغه په لوی لاس په قصدي او عمدي توګه دا کارونه ترسره کوي، په داسې صورت کې د افغانانو پاڅون او مظاهرې هم دهغوی فطري او قانوني حق دی، که څوک دهغوی پوځیان په ښنبه کوي او یا هم په ټانکونو او ګاډو د کاټو ګوزارونه کوي ددوی ټولو مسؤولیت پخپله د امریکایانو په غاړه ده نه د افغان چارواکو او افغانانو په غاړه، نه د معافیو په غوښتلو دا مشکل ختمېدای شي او نه هم په تقبیح او غندلو سره، ځکه چې بې حسابه بخښنې راغوښتل شوې او بې حسابه مذمتي بیانونه خپاره شول خو هېڅ نتیجه وربانديې مرتبه نه شوه، ښه به دا وي چې لدې مشکل نه د وتلو حقیقي لاره وسنجول شي او هغه محرک له منځه ویوړل شي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي او جنګ جګړې ته لمنه وهي، که داسې نه کېږي او راتلونکې لپاره هم امریکایي او ناټو ځواکونه د افغانستان د بې ګناه خلکو د وژلو، دهغوی خورولو، توهینولو، د مقدسو کتابونو او مقدسو ځایونو د سوځولو او بې احترامۍ څخه لاس په سر کېدو ته نه چمتو کېږي نو افغانان به د خپلو ټولو حقوقو د دفاع لپاره میدان ته دانګي او خپل روا او قانوني حقوق به خامخا ترلاسه کوي.

سړه هوا او تودې سرګرمي

په کابل کې له دوه میاشتو راهیسې واورې ورېږي، هوا بې دریغه سړه ده، واورو د کابل سرکونه او کوڅې پوښلي، په تنګ راتګ کې خورا زیاتې ستونزې دي د سرکونو دپاکولو لپاره دښاروالی اویا ټولګټو وزارت لخوا هېڅ پروګرام نشته، عام وګړي دګڼو ستونزو سره مخ دی او پر بېچاره او بې سرپناه اوسېدونکو خو یې خدای تیروي، نه سرپناه لري او نه دخوراک څښاک لپاره خواړه، په خیمو کې شپې تیروي. دخوراک او سوند توکو بیې هم لوړې شوی او بې وزله ښاریان یې د اخیستو توان نه لري. دتېلو، لرګیو او ګازو نرخونه د اسمان سره خبرې کوي. پدې ناخوالو کې بیا سیاسي سرګرمیو زور اخیستی، سیاسي سرګرمی ښه په درز کې روانې دي نه له واورو خبر دي او نه یې په پټرولو او ډیزلو پروا شته او نه یې واورې په مخ کې دیوال جوړیدای شي، موټر ګرم، دفتر ګرم، مبلمستون ګرم، لنډه دا چې هر څه ګرم ګرم خو پدې ګرمیو کې چې څوک زیات ګرم دي هغه نوي نومول شوي وزیران دي. دوی د کابل هره کوڅه ولټوله ځکه زموږ دولسي جرګې ۲۴۹ تنه غړي دی او د کابل وړو کې ښار دی په هره کوڅه کې که نه وي نو په دویمه کوڅه کې خو ضرور یو وکیل اوسېږي او دوی اړ دي چې دملت دخدمت لپاره پردې ټولو سلام واچوي خو هغه کوڅه ترټولو زیاته ګرمه وي په کومه کې چې د کوم سیاسي ګوند دفتر او یا د کومې دلې اوګروپ مهم غړی اوسېږي.

وزیر صاحبان دخپلو نږدو ملګرو اویا د وکیلانو دپلویانو او دوستانو په مرسته د زرګونو ډالرو په لګښت غونډې او مجلسونه جوړوي او داسې غږېږي لکه دفصاحت او بلاغت په کتابو چې سریزې دوی لیکلې وي . هر چا سره

عبدالله کامه وال

دهغوی د اړتیا او غوښتنې مطابق وعدې کوي او دخپلې پاکی، ښه مدیریت او هېواد ته د ژمنتیا ژمنې کوي او د راتلونکې په اړه ورته کاري پلانونه او طرحې وړاندې کوي، دوی داسې طرحې جوړې کړي چې په اوریدو یې سړې هک پک شي او فکر کوي که دا ښاغلی کامیاب شي نو ملک به شړشم کړي ددوی په طرحو کې دنیوکو او وړاندیز ځای نه وي.

په نوموړو وزیر صاحبانو کې زیاتر پخوانی څېرې دي چې یو یا دوه ځلې دولسي جرګې له لورې رد شوي او د باور رایې یې نه دي ترلاسه کړي خو بیا یې هم دسرپرست وزیر په توګه ښه په نره دا څو کاله د وزارت څوکی ټینګه کړې وه. او دا دی بیا هم پرهمغه پوستونو معرفي شول.

د ولسمشر له لورې ددوی په بیا معرفي کولو داسې ښکاري چې تیر ځل ولسي جرګې ددوی په نه انتخاب کې سم قضاوت نه و کړی ګڼې ولسمشر څه مجبور و چې بیا یې دوی معرفي کول دا ددوی شایستګي او مدیریت ښایي ګڼې داسې نه ده چې دې ملک کې دسړو کمې دی سړي شته خو دوی دهغه د وړتیا له مخې ټاکل شوی چې دوی یې لري او په نورو هېوادوالو کې به یې نه لیدله دا چې دا وزیران په خپلو وزارتونو کې څومره کامیاب وو دا خو هغه سوال دی چې سرپرست او برحال وزیر صاحبان به یې ولسي جرګې ته ځواب ووایي چې ورکړ شوی بودیجه یې څومره او څنګه لګولې او دکارونو خو یې موږ ولس شاهدان یو نه مریضان تر پاکستان او هندوستانه وړو او نه په وزارتو کې پر قومي او ژبني تعصب ککړ یو، کورونه او ښارونه مو په رڼا روښانه دي اوس له جنراتوري بریښنا شکر خلاص شو، دهېواد ټول مهم هوایي میدانونه لکه دننګرهار، کندهار او باګرام زموږ په واک کې دي، ترانسپورتي چارې مو ښه په درز کې روانې دي، ښارونه مو جوړ شو دښار کوڅې او سړ کونه قیر شوی له دې ټولو کارونو او پرمختګونو سترګې پټول به بې انصافي وي تاسو به د کابل په ښار کې دا دنګې او ښکلې ودانی لیدلې وي چې زیات لګښت پرې شوې پر ښکلو شیشو او رنګونو ښکلې شوي دا د همدوی ښاغلو برکات دي دا د واده هوټلونه او ریستورانتونه، مارکېټونه ، شخصي روغتونونه او ښکلي کورونه کله خو به مو د دربیم پروان، تایمنې او هوایي ډګر په لور سفر کړی وي ضرور به مو دا ودانی لیدلې وي دا د چا دي، دا خوار افغانستان او دا دنګې ودانی دا پیسې له کومه شوی او دا طرحې چا وړاندې کړې؟ خو همدا زموږ غمخوار وزیران، معینان او رئیسان دي، ګڼې زموږ په څېر د بېچاره او خوار هېواد اوسېدونکي دی چې ترنیمایي سلنې زیات یې د فقر او بې کورۍ له لاسه پدې یخ ژمي کې خامو کورونو او خیمو لاندې ژوند تیروي د دا ډول ودانیو توان کله لري نو له وکیل صاحبانو مو هیله ده چې دا مهربانه مشران دی نه خفه کوي او رایه ور کړی. کیدای شي تردې زیات خدمات ترسره کړي او دا دولتي ځمکې او دښتې چې هسې پرتې دي او باد پرې لګې دخپلو ملګرو په مرسته دحکومت نه په ارزانه بیه واخلي او ښارګوټي پرې جوړ کړي. او بیا یې پر خپلو مذهبي، قومي او تنظیمي ملګرو به وویشي او که له هغوی زیاتې شوې نو پر نورو هېوادوالو به یې هم وپلوري چې له یو پلوه به یې دولتي ځمکې دغصب نه خلاصې کړی وي او له بله پلوه به یو څو تنه د کورونو خاوندان کړي وي.

د قرآن کریم د دفاع صحیح لاره کومه ده؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...خو دا چې مظاهره کوونکي وروڼه د حق د دفاع په لاریونونو کې پخپله د حق خیال نه کوي او د یو غیر مسلم امریکایي ګناه په بدل کې د بې ګناه وګړو سر او مال ته تاوان رسوي دا پخپل ځای د قرآني لاربښوونو په خلاف عمل دی چې کلکه ډډه ترې بنه باید وشي.

د قرآن کریم او د اسلام د سپېڅلی دین اصلي او واقعي دفاع دا ده چې د ژوند په هر ډګر کې صحیح عمل ورباندې وشي او له هغو ټولو کړنو څخه په کلکه ډډه وشي چې ممنوع او حرام ګڼل شوي دي.

پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې به هم کفارو او مشرکینو قرآنکریم ته د زړو کیسو کتاب، او محمد صلی الله علیه وسلم ته به لیونې او جادوګر ویل خو محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه صحابه کرام به ددې پرځای چې د قهر او غضب ښکار شي او خپل سر او مال ته تاوان ورسوي په ډېره قوي جذبه او مینه پخپل الهی نظام باندې عمل کاو، که څه هم د قرآن کریم د سوځوونکو او توهین کوونکو په خلاف خپل قهر او غضب ښکاره کول او د احتجاج غږ اوچتول هم د قرآنکریم د دفاع له لارو څخه یوه لاره ده خو تر ټولو موثره او مهمه دفاع یې داده چې مسلمانان د قرآنکریم په لارښوونو عمل وکړي، حلال یې، حلال وګڼي او حرام یې، حرام، که خدا ناخواسته، کوم متعصب کافر قرآن کریم وسوځوي او مسلمانان دهغه په عکس العمل کې خپلو موټرو او دکانو ته اور واچوي، د کورونو، هوټلونو، موټرو او بسونو، شیشې ماتې کړي او د خلکو پرمخ په ساعتونو ساعتونو لارې وتړي نو دا په حقیقت کې خپلې پښې پخپله په تبر وهل دي او هغه بدبخت مجرم ته دا جرئت ورکول دي چې نور هم خپلو ناوړو عملونو ته دوام ورکړي او په یو غشي دوه ښکار وکړي، هم د قرآنکریم اهانت وشي او هم دهغه منونکو سر او مال او امنیت ته تاوان ورسېږي.

د اسلام او د مسلمانانو کامیابي او برلاسي په دې کې دی چې مسلمانان د جذباتیت پرځای تل د محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه د صحابه کرامو کړنلاره خپله کړي او د برلاسی لاره په سلو کې سل په قرآن کریم او نبوي احادیثو باندې په عمل کې ولټوي، لکه څنګه چې هغوی پر خپل دین د بشپړ عمل له کبله د ژوند په هر ډګر کې بریالي او سرلوړي شوي وو، ددې زمانې مسلمانان هم پخپل دین د صحیح او بشپړ عمل په صورت کې د بریالیتوب معراج ته ورسېږي.

موږ افغانانو د قرآن کریم او نبوي احادیثو واقعي دفاع به هله کړې وي چې زموږ ټولې چارې او کړنې د قرآنکریم په رڼا کې ترسره شي، پخپلو کې یو موټی او متحد واوسو، د یو بل په غم او درد کې شریک شو، پخپل هېواد کې عدل او انصاف قائم کړو، د امن او سلامتیا فضأ حاکمه کړو، د غصب، رشوت، درغلی، فساد، چور چپاول، قتل، ظلم، زیاتی جرړې وباسو، د یو بل سر، مال، عزت او ابرو ته د احترام په نظر وګورو، له هر ډول قومي، ژبني، نسلي او مذهبي تعصبونو څخه چې د اسلام د سپېڅلی دین په خلاف روحیه ده په کلکه ډډه وکړو، یوه فلاحي اسلامي حکومت او ټولنه جوړه کړو.

اصلاً قرآن کریم د انسانانو لپاره د ژوند تېرولو یوه ښه ضابطه او قانون دی نه تش کتاب، تر څو پورې چې د قرآن کریم په قانون او ضابطه عمل ونه کړی شي تش قرآنکریم ته په زنده باد ویلو او پر هغه هسې د ځان د قربانولو له لارې د قرآنکریم د دفاع حق نه شي ادا کېدلي او نه هم دهغه د دښمنانو هغه مذمومې ارادې او عزائم شنډولي شوو چې وخت ناوخت په کار اچوي، قرآنکریم به موجود وي خو پر احکامو به یې عمل نه کېږي، د سود ناوړه کارو بار به روان وي، بې عدالتي او ناانصافي به آخري کچې ته رسېدلې وي، ظلم او زیاتې به د خلکو ژوند ګوابنې، غلا، رشوت، ډاکه، غصب، فساد او د انسان وژنې او خورونې ناوړې کړنې به ترسره کېږي، دچا عزت، آبرو، څادر او چاردیوالي به محفوظ نه وي بلکې هر چېرته به ظلم او بربریت خپلې ویرونکې وزرې خورې کړې وي.

راځئ! پخپله قضاوت وکړو چې آیا د مسلمانانو مسؤولیت یوازې همدا دی چې تش په خوله د قرآن کریم د پاڼو او د اسلام د دین د نوم دفاع وکړي او که دا مسؤولیت هم لري چې ددې ترڅنګ پخپل هېواد کې د قرآني احکامو مطابق او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع په رڼا کې سوچه اسلامي حکومت او اسلامي ټولنه قائمه کړي او په دې خبره هم غور وکړو چې د قرآنکریم د دښمنانو د مقابلې او دهغوی د ټولو عزائمو د ناکامولو مؤثره لاره کومه ده؟ د قرآن کریم د احکامو په رڼا کې اسلامي فلاحي حکومت او اسلامي فلاحي ټولنه جوړول او که تش په خوله دهغه د دفاع ډېره په سینه ډبول؟؟

د حزب اسلامي افغانستان ...

د کابل ښار ټول اوسیدونکي د ماښام له لمانځه څخه خوشیبې ورسته لارو او کوڅوته راووتل اودالله اکبر دنارو په ویلوبې پیل وکړ، په لاریون کوونکو کې ځوانان، سپین ږیري اوماشومان هم شامل و، دوخت کمونیستي رژیم دخپلې واکمنی دحاکمیت په موخه دکابل ښار دمېړنیو اومجاهدو پاڅون کوونکو پرخلاف اودهغوی دسرکوب کولو لپاره یې په لوی وحشت لاس پورې اودمعصومو ښاریانودوینوپه تویولو یې لاس پورې کړ.

دښاغلي عبدالولي په وینا، په شهیدانو کې زیات شمیر هغه کوچني ماشومان هم و چې دوخت دکمونیستي رژیم اوسرو یرغلګرو پرخلاف سرکونو ته راوتلي ؤ.

په غونډه کې دحزب اسلامي افغانستان دځوانانوټولنې مشر ډاکترسیف الدین)عمرخیل(هم دکب ددریمې نیټې قیام دکمونیستي رژیم اودیرغلګرروسي پوځیانو دزوال پیل وباله.

دښاغلي عمرخیل په وینا دکابل ښاریانو قیام زموږ دنسلونو لپاره یوه ویاړلې کارنامه اودښکیلاک لپاره دعبرت یوښه درس دی، نوموړي د خپلوخبروپه اوږدو کې دځوانانوپه پیاوړتیا اونظم ټینګاروکړ.

دغونډې په ترڅ کې دحزب اسلامي افغانستان ددارالانشا مشرتورن غلام سخي، مدیرصاحب مصطفی، حاجي نورالله حبیب یار اویوشمیر نوروګډونوالو دقربانۍ ددغې ستري ورځې په اړه بیلابیلې خبرې وکړې، دوی په خپلو خبروکې دکب ددریمې نیټې ټولو شهیدانوته دفردوس جنت اوکورنیو ته یې دجمیل صبر غوښتنه کړه.

دغونډې په پای کې دحزب اسلامي افغانستان دځوانانو ټولنې دبګرام په پوځې اډه کې قرانکریم ته دسپکاوي په غبرګون کې اعلامیه ولوسته چې په لاندې ډول بیانیږي.

بسم الله الرحمن الرحیم

دبګرام په زندان کې قران کریم ته دسپکاوي په غبرګونکې

دحزب اسلامي افغانستان دځوانانودټولنې اعلامیه

دتیرې سې شنبې په ورځ دبګرام په پوځي اډه کې دبهرنیوځواکونو له خوا دیوشمېر دیني کتابونو په خواکې دقرآنکریم دځینونسخودسوځولوپه عکس العمل کی دبګرام ولسوالی په دین اووطن مینو خلکو په پراخ لاریون لاس پورې او دخپلوسپېڅلو احساساتو په ښودلو سره دبهرنیو ځواکونو ددغه ناوړه عمل په وړاندې خپل کلک غبرګون او کرکه وښودله، اسلامي مقدساتو ته د سپکاوي دغه ډول اعمال دبهرنیو ځواکونولومړنی کړنه نه ده،بلکې بهرنیو ځواکونو په وارواره اسلامي مقدساتو ته سپکاوی کړی.

دحزب اسلامي افغانستان دځوانانوټولنه دبهرنیوځواکونودغه کړنه په سختوټکوغندي او په ټینګه دداډول کړنو دمخنیوي اوعاملینو دمحاکمی غوښتنه کوي.

دحزب اسلامي افغانستان دځوانانو ټولنه دوحشي شنو داړونکوددغه عمل په اړه له خپل مجاهد ولس سره خپله خواخوږي ښکاره کوي اوخبرداری ورکوي چه دتکرارپه صورت کې به یې پایلې د ولس ملي پاڅون وي.

غونډه د استاد محمد داوود شبرزاد په دعا پای ته ورسېده.

شیخ الازهر بی حرمتی قرآن ...

تصمیم بگیرند.

وي ضمن وحشیانه خواندن این اقدام آن را عبور از خط سرخ دانست و گفت: مسلمانان جهان هرگز این تجاوز را نمي‌پذیرند چرا که چنین اقداماتي در حقیقت دشمني علیه مقدسات است و احساسات میلیون‌ها مسلمان را خدشه‌دار مي کند.

شیخ الازهر افزود: قرآن کریم والاترین و باارزش ترین جایگاه را در قلب مسلمانان دارد، لذا هرگونه توهین و بي‌حرمتي به آن از سوي مسلمانان بخشیده نخواهد شد.

وي تاکید کرد: الازهر این اقدام وحشیانه علیه قرآن را نمي‌پذیرد، همان‌طور که هیچ انسان متدین و غیرمتدیني، این مساله را نمي‌پذیرد.

د حزب اسلامي غړو د ننګرهار ...

قیمت دفاع کوو اوهیچاته به اجازه ورنکړو چې اینده د داسې جرم مرتکب شي او زمونږ د مسلمان ملت احساسات مجروح کړي.

له دولت څخه مو جدی غوښتنه داده چې ددی جرم عاملین دی ښکاره او په څرګند ډول محاکمه شي".

ورپسې د حزب اسلامي د رهبری شوراغړی او جهادي قوماندان سیدالرحمن واحدیار خپله وینا واوروله او ویې ویل: د امریکایانو دغه د شرم نه ډک عمل د ظاهرشاه د وخت کمونستانو له هغه عمل سره مشابهت لري چې قرانکریم یې د کابل پوهنتون د ځلورم منزل څخه راګوزار کړ، د کمونستانو ددې عمل سره جوخت اسلامي تحریک پیل او په غورځنګونو شو او د کمونستانو مقابلې ته یې راودانګل او الله جل جلاله کمونستان او د هغوی باداران د حزب اسلامي په قیادت او د افغان مسلمان ملت په لاسونو له شکست او رسوا ماتې سره مخامخ کړل. او دا هم لري نده چې امریکایان به هم یوه ورځ ورپسې د ننګرهار د اسلامي پوهنتون استاد محمدشریف رحماني عالمانه وینا وکړه او ویې ویل: کوم ناوړه عمل چې یهودو ترسره کړی دا له هغه نه ډیر کم دی چې پټ په زړونو کې لري.

مسلمانان باید د صبراو زغم څخه کار واخلي، تقوا غوره کړي، دهغوی له دوستي څخه ځان وساتي تر څو له شر نه یې خلاص شي.

ورپسې د ننګرهارد اسلامي پوهنتون استاد عبدالهادي عاصم خپله وینا واوروله او ویې ویل: مونږ دغه ناوړه عمل غندو خو موږ ته دا هم پکار ده چې په ولسونو کې فکري کار وکړو او د خلکو زړونه خپل کړو او د ولسونو تربیت ته خاصه پاملرنه وکړو او فکري انقلاب رامنځ ته کړو او د یهودو د شر څخه خلاص شوو.

ورپسې دیني عالم مولوي ضیاء الله خپله وینا ګډونوالوته واوروله او ویې ویل: زه ډیر خوشحاله یم چې نن تاسي یو ځل بیا په منظم شکل کې ګورم، ان شاءالله چې د حزب اسلامي په لاس به اسلامي نظام جوړیږي. د قرآن کریم ساتنه به همدوی کوي او ددې احکام به همدوی نافذوي.

ورپسې د ننګرهار د اسلامي پوهنتون علمي مرستیال د ننګرهار د حزب اسلامي د ولایتی دفتر پریکړه لیک د غونډې ګډونوالوته ولوست او برخوالو څخه یې د پریکړه لیک د هری مادی تاید او ملاتړوغوښت او هغوی د لاسونو په جګولو تاید کړ غونډه د ننګرهار د حزب اسلامی د علماء ریس په دوعایه کلام پای ته ورسېده د شهداو روح ته یی دعا وکړو او د الله جل جلاله څخه یی د زخمیانوته د عاجل صحت غوښتنه وکړه، د غونډې ویاندوی چارې همت الله تلوار وړاندې کولې.

ششمین نشست "ایکو" در کابل...

فعلي، سیلاب و آبخیزی در سال آینده، تهدید دیگری است که مایهٔ نگرانی این اداره میباشد.

رئیس عمومی ادارهٔ ملی آماده گی با حوادث طبیعی علاوه کرد: "ما دراین نشست برعلاوه سه هدف عمدهٔ کاهش خطرات حوادث طبیعی در منطقه، ازکشورهای عضو ایکو به ویژه ایران، خواهان کمک های مادی برای متضررین خواهیم شد."

به گفتهٔ کاکړ، آنها پیشنهاد تربیهٔ کدرهای تخصصی درافغانستان و انتقال تجارب شان را درهنگام رویدادهای طبیعی نیز خواهند نمود.

محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری، افغانستان را کشوری خواند که همواره در معرض خطر سیلاب و خشکسالی بوده و از کشورهای عضوایکو (ECO) خواست که اداره ملی مبارزه با حوادث طبیعی را در زمینهٔ امکانات و انتقال تجارب، یاری رسانند. وی خواستار کمکهای بیشتر تمام کشورهای عضو ایکو گردید.

منوج نمایندهٔ، دفتر هماهنگی کمکهای بشری ملل متحد برای افغانستان نیز از خطرات سیلاب ها در افغانستان ابراز نگرانی کرده، گفت که مردم افغانستان به کمک های بیشتر بشری نیاز دارند.

وی علاوه کرد که چهل درصد نفوس افغانستان، ماهانه تنها یک دالرعاید دارند.

قراراست که نشست ایکو، فردا (۱۰حوت) نیز ادامه یابد که به گفتهٔ کاکړ در پایان نشست، اعضای ایکو تعهدات و کمکهای شانرا به افغانستان اعلام خواهند نمود.

کاکړ، اهداف دیگر این نشست را تحکیم همکاری های منطقوی، تنظیم هرچه بهتر فعالیت های کاهش خطرات در منطقه، تشریک معلومات و تجارب در رابطه با مدیریت و ارتقای ظرفیت خواند.

به گفتهٔ او، قراراست در نشست دو روزهٔ ایکو، روی کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی به ویژه تهدید خطرات ناشی از زلزله، خشکسالی و سیلاب ها در کشورهای منطقه و دریافت راه حل های مناسب نیز بحث و گفتگو صورت بگیرد.

سازمان ایکو در سال ۱۹۶۲میلادی توسط پاکستان، ایران و ترکیه، به هدف رشد همکاری های اقتصادی ایجاد گردیده و کشورهای آسیای میانه (ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، آذربائیجان، قزاقستان و قرغزستان) و افغانستان اعضای آنرا تشکیل میدهند.

کاکړ گفت که در حاشیهٔ این نشست، پیرامون ایجاد یک مرکز منطقوی کاهش حوادث به سطح منطقه در قزاقستان و پیشگیری از خطرات خشکسالی، زلزله و سیلاب ها در کشورهای منطقه نیز صحبت خواهد شد.

وی دلیل انتخاب این مرکز در قزاقستان را موجودیت ذخایر مواد خوراکی بیشتر درآن کشور و تربیهٔ تیم های نجات و تجهیزات مجهز کمکی در حالات اضطرار به کشورهای منطقه عنوان نمود.

بر اساس گزارش سازمان ملل متحد، درسال ۲۰۱۱ میلادی بر اثر خشکسالی، نزدیک به سه میلیون تن در افغانستان متاثرشده بودند.

محمد داوود یار که به نمایندگی از وزارت خارجه در نشست ایکو صحبت میکرد، به نقل از گزارشات انتشاریافتهٔ رسانه های بین المللی گفت که ازسال ۱۹۸۰ تا کنون، بیش از ۲۰ هزارتن در افغانستان براثر رویدادهای مختلف طبیعی جان باخته و اضافه از هفت میلیون تن از مناطق اصلی شان، بیجا شده اند.

ارقام ارائه شدهٔ این رسانه ها نشان میدهد که از سال ۲۰۰۰ میلادی تا کنون ۱۳۰۰ تن بر اثر زلزله در افغانستان، جان داده و خسارات وارده به مردم هم چشمگیر بوده است.

گفتنی است که نشست بین المللی کشورهای عضو سازمان ایکو، همه ساله در یکی از کشورهای عضو تدویرمی یابد؛ اولین نشست ایکو، در سال ۲۰۰۵ میلادی در کابل و دومین نشست آن، در سال ۲۰۰۶ در دهلی جدید (پایتخت هندوستان) دایر شده بود.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

بنايي د امنيتي مسووليتونو د لېږد بهير به له ستونزو سره مخ شي

والسټريټ ژورنال:

امريکايي والسټريټ ژورنال ورځپانه ليکي، امريکايي مقاماتو پر خپلو ځواکونو د افغان عسکرو له مرګونو حملو وروسته چې کله خپل سلګونه پوځي او ملکي کارکونکي په کابل کې له افغان دولتي ادارو راوبلل، داسې ښکاري چې افغان ځواکونو ته به د امنيتي مسووليتونو د لېږد کار له بې سارو ستونزو سره مخامخ شي.

ورځپانه زياتوي امريکا، بريتانيې، جرمني او فرانسې د يکشنبې په ورځ خپل مشاورين له وزارتونو او نورو دولتي ادارو راوبلل.

د بګرام په هډه کې تيره اونۍ د قرانکريم د نسخو سوزولو په دې هېواد کې د اعتراضو څپې راوپارولې او د نارامې لامل شوې.

وال سټريټ ژورنال ليکي، له دولتي ادارو د مشاورينو ويستل نه يواځې افغانستان د متخصينو له کموالی سره مخامخ کوي بلکه دا پيغام هم رسوي چې نړيوالې ټولنې په داسې يوه حکومت چې د تيرو لسو کلونو په موده کې يې په ملياردونه ډالره وربانډې لګوي خپل باور له لاسه ورکړی.

واشنګټن پوسټ:

بله امريکايي ورځپانه واشنګټن پوسټ په همدې اړه ليکي، که څه هم چې په ډيرو برخو کې د امريکايي مشاورينو او افغان مقاماتو همکاري کمه شوې، او سره له دې چې له دولتي ادارو اوس د مشاورينو ويستل بند شوی خو بيا هم دا څرګنده نه ده چې د افغان او امريکايي عسکرو ترمنځ د اعتماد فضا به څرنګه بيا ورغول شي.

يو امريکايي پوځي چې په کابل کې د مشاور په توګه کار کوي واشنګټن پوسټ ته ويلي له عادي حالته لا هم تهديدونه ډير دي او دا حالت به په اساني بيرته بدل نه شي.

هغه ويلي کله چې مشاورين وزارتونو ته ځي نو دوي به د پخوا په شان له شپږو تر لسو ساعتونو پورې پاتې نشي بلکه امکان لري چې لنډ وخت لپاره ورشي.

واشنګټن پوسټ زياتوي، لوړ رتبه امريکايي مقاماتو هڅه کړې څو د دې هېواد خلک چې له جګړو ستړي شوی بيا مطمين کړی چې د راتلونکې کال تر نيمايي پورې به په افغانستان کې د ناټو پوځي ماموريت خپل پای ته نږدې شي.

دې مقاماتو ويلي، هڅه به وشي چې تر دې ماموريت وروسته يو لږ شمېر امريکايي پوځيان په افغانستان کې پاتې شي او دوې ته چندان خطر متوجه نه وي.

د ورځپانې په حواله پوځي کار پوهان په دې اند دي چې که چيرته امريکايي عسکر کم وي، نو د افغان عسکرو له ډيرو احتمالي حملو سره به مخامخ شي.

امريکا خروج نيروهايش را از افغانستان شدت نمی بخشد

کابل، رسانه ها:

مقامات نظامی ایالات متحده امریکا در کابل و واشنگتن دیروز از طریق ویدیو کنفرانس در مورد نا آرامی های اخیر در افغانستان، با هم گفتگو کردند.

از یک هفته به این سو بعد از سوختاندن نسخه های قرآنکریم در پایگاه نظامی نیروهای امریکایی در بگرام، مظاهرات خشونت بار در افغانستان جریان داشته که گفته می شود در این مظاهرات نزدیک به ۴۰ نفر کشته شده اند. پس از این حادثه، حملات بر قرارگاه های نیروهای امریکایی در نقاط دیگر افغانستان نیز افزایش یافته اند.

این حادثه، بر ستراتیژی نظامی ایالات متحده در افغانستان چه تاثیر خواهد کرد؟

قصر سفید و وزارت دفاع امریکا می گویند، در ستراتیژی جنگی امریکا در افغانستان کدام تغییراتی به میان نیآمده است و امریکا خروج نیروهایش را از افغانستان، شدت نمی بخشد.

جی کارنی سخنگوی قصر سفید، حادثه کشته شدن دو افسر نظامی امریکا را در داخل وزارت امور داخله، افغانستان وحشتناک خوانده گفت، در سال جاری نیروهای نظامی امریکا و متحدین ناتو وی توسط نیروهای نظامی افغان کشته می شوند.

جورج لیتیل سخنگوی وزارت دفاع امریکا گفت، در روز های اخیر حملات بر نیروهای نظامی امریکا در افغانستان افزایش یافته اند.

اما روابط آنها با همکاران افغان شان چنیین مستحکم خواهد بود که قبل از آن بوده است.

از سوی دیگر، جان کربی سخنگوی نیروهای نظامی ایالات متحده امریکا در افغانستان، از طریق ویدیو کنفرانس به مقامات وزارت دفاع امریکا در واشنگتن گفت، بعد از کشته شدن دو افسر امریکایی در وزارت داخله افغانستان اوضاع در این کشور بحرانی شده است. بعد از کشته شدن این دو امریکایی، ناتو کارمندان شان را از تمام وزارت ها و ادارت افغانستان فراخواند.

مقامات وزارت دفاع امریکا گفتند، با وجود اینکه از یک هفته به این سو بخاطر سوختاندن نسخه های قرآنکریم توسط نیروهای امریکایی در پایگاه نظامی بگرام تظاهرات مرگبار در افغانستان جریان دارد، اما باز هم امریکا بر تعهد خود استوار بوده به ستراتیژی نظامی خود در افغانستان متعهد می باشد.

جورج لیتیل سخنگوی وزارت دفاع امریکا به خبرنگارن گفت که لیون پنیتا وزیر دفاع و جنرال مارتین دیمپسی لوی درستیز نیروهای مسلح این کشور به این باور اند که ستراتیژی امریکا در افغانستان بطور مناسب جریان دارد.

سخنگوی وزارت دفاع امریکا گفت، ایالات متحده در برنامه خروج نیروهای این کشور از افغانستان کدام تغییراتی را به میان نیآورده است. جان کربی سخنگوی نیروهای نظامی امریکا در افغانستان می گوید، با وجود این اعتراضات و مظاهرات عملیات مشترک نیروهای امریکایی و افغان در برخی نقاط این کشور جریان دارد.

به باور جان کربی، امریکاییان اعتراضات در مورد سوختاندن نسخه های قرآنکریم را بررسی می کنند و در حال حاضر این اعتراضات کاهش یافته اند.

امریکا به خاطر سوختاندن نسخه های قرآنکریم به تکرار معذرت خواست و تاکید نموده است که این یک اشتباه بوده، عمل قصدی نیست.

له طالبانو سره د پخلاينې او له افغانستان سره د مرستو په اړه د پوتين څرګندونې

تاند:

د روسيې صدراعظم ولاديمير پوتين، چې ګومان کېږي ژر به بيا د دغه هيواد ولسمشر غوره شي، وايي، که د افغانستان وسله وال مخالفان جګړه بس کړي د ملي پخلاينې په پروسه کې شاملېدای شي.

پوتين وويل: «موږ د طالب ياغيانو په شمول د ملي پخلاينې په بهير کې د وسله والو مخالفانو له يوځای کېدو سره مخالف نه يو خو شرط دا دی چې دوی وسله پر مځکه کښېږدي، د افغانستان اساسي قانون ومني، او له القاعده او نورو تروريستي ډلو سره اړيکې وشلوي.»

روسيې پخوا په افغانستان کې له طالبانو سره د جوړجاړي مخالفت کاوه خو د ښاغلي پوتين دا څرګندونې کېدای شي هغه څه ته ورته دي چې امريکايي او افغان چارواکي يې کوي.

پوتين وايي، روسيه هيله لري چې د ګاونډيو هيوادونو په فعاله همکاری د يوه باثبات اقتصاد او داسې پياوړو افغان امنيتي ځواکونو په رامنځته کولو کې له افغانستان سره مرسته وکړي چې د ترهګرو او جنايتکارو ګواښونو ته ځواب ويلی شي.

ده تاکيد وکاوه: «زه باور لرم چې د يوه سوله ييز، باثباته، خپلواک او بې طرفه افغان دولت جوړېدا کاملاً ممکنه ده.»

پوتين له افغانستان سره د خپل هيواد د مرستو زياتولو ته چمتووالی ښکاره کړ، ويې

ويل: «موږ حاضر يو چې له افغانانو سره د روسيې د مرستو پر زياتولو غور وکړو. خو شرط دا دی چې په افغانستان کې دېره نړيوال ځواکونه په لا قوت د کوکنارو کروندې واړوي او د مخدرو موادو د جوړولو لابراتوارونه ويجاړ کړي.

ولاديمير پوتين دا څرګندونې د "روسيه او بدلېدونکې نړۍ" په نوم په يوه ليکنه کې کړې چې د دوشنبې په ورځ د مسکو چاپ (Moskovskiye Novosti) ورځپانې خپره کړې ده.

ده په عين حال کې په سيمه کې د امريکا پر اقداماتو اندېښنه ښکاره کړه، ويې ويل، امريکا په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه ځواکونه باسي، په دغه هيواد او شاوخوا هيوادونو کې يې له ښکاره ماموريت، هدف او د کومې مودې له ټاکلو پرته، پوځي اډې جوړوي.

ده په سيمه کې د امريکايی اډو موجوديت د روسيې لپاره مناسب ونه باله.

قتل دو مشاور امریکایی در هالهء از ابهام و پرسش ها

رادیو آزادی:

کشته شدن دو نظامی امریکا در وزارت داخله افغانستان، سوالاتی زیادی را میان حلقات مختلف ایجاد کرده است.

عمده ترین سوال اینست که حمله کننده چطور توانست تا به اتاقی که خیلی از نظر امنیتی مصوون و محفوظ است، داخل شده و هر دو نظامی را از یک فاصله نزدیک هدف قرار دهد.

کشته شدن دگرمن هوایی جان دی لوفتیز و یک جگرن دیگر امریکایی که از او نام گرفته نشده، سوالاتی را در مورد این حادثه و همچنان ستراتیژی آینده متحدین ناتو در افغانستان به وجود آورده است.

خبر گذاری رویترز مینویسد: چگونه گی این حمله، خیلی عجیب به نظر می رسد. اینکه قاتل چگونه خود را پس از عبور از چندین دروازه به اتاقی رساند که خیلی محفوظ و مصوون و با قفل های الکترونیک مجهز است. ناتو پیش از این امیدوار بود که موجودیت مشاورین مانند این دو افسر، نقش بزرگی را در افغانستان ایفا خواهد کرد، به خصوص زمانیکه نیرو های بین المللی از این کشور خارج می شوند اما به دنبال حادثه روز شنبه در وزارت داخله، ناتو به صورت فوری مشاورین خود را از وزارت های افغانستان بیرون کرد. مرکز سوق و اداره وزارت داخله، شاهد این حمله مرموز بود. این ساختمان دو طبقه یی در چند متری ساختمان اصلی وزارت امور داخله قرار دارد. حمله کننده در حالی دو امریکایی را به قتل رساند که کارمندان امریکایی در طبقه اول و افغان ها در سایر اتاق ها مصروف کار بودند. مقامات ارشد امنیتی

افغانستان که نخواسته اند نام های شان گرفته شود، به خبر گذاری رویترز گفته اند که قاتل در حادثه روز شنبه در وزارت داخله، از چندین دروازه که مجهز با قفل های الکترونیک بود، عبور کرد تا اهدافش را پیدا کند.

گفته می شود که یکی از مشاورین امریکایی که در این حادثه کشته شده بود، به زبان های دری و پشتو تکلم می کرد.

یک منبع امنیتی گفته که دروازه اتاق این مشاورین قفل خیلی مصوون داشت و آنها خود را در داخل این اتاق خیلی محفوظ احساس می کردند. به همین خاطر بود که هیچ یک از این افسران مسلح نبودند و پیش از داخل شدن به ساختمان وزارت داخله، تمام سلاح و مهمات خود را دور می کردند زیرا این بخش را مصوون ترین مکان در وزارت داخله فکر می کردند. اما با همه تدابیر و مصوونیت، ساعت چهار عصر روز شنبه، حمله کننده داخل اتاق آنها می شود و تیر اندازی را آغاز می کند.

یک منبع امنیتی به خبرگذاری رویترز گفته که در پیشانی یکی از مشاورین پنج گلوله و در سر دیگرش، سه گلوله اصابت کرده است. یک منبع دیگر گفته که حمله کننده با هدف قرار دادن هر دو تن از اتاق بیرون شد و دروازه را بسته کرد. چند لحظه بعد زمانیکه اجساد هر دو تن پیدا شدند، وحشت فضای اتاق و وزارت داخله را فرا گرفت. نخست شماری از کارمندان وزارت داخله فکر کردند که هر دو افسر یکدیگر را به قتل رسانده اند. اما بعد معلوم شد که یکی از کارمندان ناپدید است.

مقامات این حمله کننده مظنون را به نام عبدالصبور معرفی کرده اند که بیست و پنج سال عمر دارد و بحیث افسر استخبارات در وزارت داخله کار می کرد. همکاران صبور می گویند که او در روز حمله تحت فشار قرارداشت واز مشکل خانوادگی اش در دره سالنگ سخن گفته بود.

یک روز پس از حمله، موبایل صبور فعال بود و احتمالاً او در همان روز در کابل بسر می برد اما پس از آن هیچ خبری از او در دست نیست.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي ياست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com